د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه مجله
مجله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# د فقهي قواعدو او اسلامي اقتصادي اصولو له نظره د افغانستان د طبيعي زيرمو اداره

پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامي
د اسلامي ثقافت ډيپارټمنټ، د شرعياتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
برېښليک: khuwajahmuhammad@gmail.com

**چکيده**

د دې څېړنې هدف د اسلامي اصولو پربنسټ د طبيعي زېرمو د ساتنې او پراختيا لپاره ستراتيژۍ جوړول دي. د څېړنې په پايله کې څرگنده شوه، چې شريعت د طبيعي زېرمو د عادلانه وېش، ساتنې او د اسراف مخنيوي لپاره ځانگړې لارې چارې لري. د اسلامي فقهې د اصولو پر بنسټ، د طبيعي سرچينو ساتنه بايد د ټولنې په گټه وي او د اسلامي تمويل سيستم لکه مضاربت، مشارکت او وقف د دې اهدافو د ترلاسه کولو لپاره گټور دي، د چاپېريال ساتنې لپاره بايد د ټکنالوژۍ کارول پراخه شي او د دولت د مسووليت پاملرنه دې ته واړول شي، چې د طبيعي زېرمو ساتنه د شريعت مطابق قانوني او عملي کړي. په څېړنه کې د طبيعي زيرمو د ښه مديريت لپاره له توصيفي، مقايسوي، تحليلي تگلارو څخه استفاده شوې ده. د دې څېړنې وړانديزونه د شريعت د اصولو سره سم د قوانينو جوړول، د وقف او زکات سيستم د مسوولانه مديريت لپاره پراخول او د نړۍوالې همکارۍ لپاره يو گډ اسلامي فقهي بنسټ رامنځ ته، چې پر بنسټ يې د طبيعي زيرمو مسوولانه مديريت ته لاره هواره شي.

**واژگان کليدی:** افغانستان؛ شريعت؛ زيرمې؛ طبيعي؛ مسوولانه؛ مديريت

# Management of Natural Resources in Afghanistan from the Perspective of Fiqh Principles and Islamic Economic Fundamental

**Khuwajah Muhammad Esumi**

Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: khuwajahmuhammad@gmail.com

**Abstract**

The methodology of this research adopts a qualitative approach, combining both doctrinal and empirical analysis. Initially, a comprehensive review of Islamic jurisprudence (fiqh) related to natural resources is conducted, focusing on classical and contemporary interpretations of Sharia principles concerning ownership, conservation, and distribution. Relevant Islamic legal texts, including the Qur’an, Hadith, and scholarly works from various Islamic schools of thought, are analyzed to identify the guidelines governing resource management. Furthermore, the research explores case studies of Islamic finance applications such as Mudarabah, Musharakah, and waqf in managing natural resources. Empirical data is gathered through literature review, reports, and case studies on Afghanistan’s resource management practices. Finally, a comparative analysis is carried out to assess how Islamic finance methods can be applied to Afghanistan's specific context, ensuring equitable distribution and sustainability of natural resources. The methodology provides a holistic view of both theoretical principles and practical solutions.

**Keywords:** Afghanistan Sharia; Natural; Management; Responsible; Resources

**ارجاع:** عصامي، خ. م. (۱۴۰۳). د فقهي قواعدو او اسلامي اقتصادي اصولو له نظره د افغانستان د طبيعي زيرمو اداره. د *کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو علمي-څېړنيزه* ۷(۴). ۹۴-۷۷. https://doi.org/10.62810/jss.v7i4.176

**سریزه**

د اسلامي شریعت له نظره د افغانستان د طبیعي زېرمو مدیریت یو بنسټیز او مهم بحث دی، چې نه یوازې د اقتصادي پراختیا لپاره حیاتي دی، بلکې د ټولنیز عدالت او شفافیت له پلوه هم ډېر اهمیت لري. په اسلامي ټولنه کې د طبیعي زېرمو سره چلند د شریعت د اصولو پر بنسټ باید ترسره شي؛ ځکه چې دا زېرمې د ټولنې مشترك ملکیت دي او د هغوی مدیریت د ټولو خلکو د ګټو پر بنسټ باید وي. اسلام په دې باور دی چې د طبیعي زېرمو مدیریت باید په یو ډول ترسره شي، چې نه یوازې د اوسني نسل اړتیاوې پوره کړي، بلکې د راتلونکي نسل لپاره هم د دې سرچینو ساتنه وشي، په افغانستان کې د طبیعي زېرمو مدیریت د ډېری نړۍوالو او داخلي ګواښونو سره مخ دی. افغانستان د خپلو طبیعي زېرمو لکه کانونو، ګاز، تېلو او نورو سرچینو څخه ډېرې پانګونې او ګټې اخیستنې ته اړتیا لري، خو د دې سرچینو د مسولانه مدیریت او تل پاتې کارونې لپاره اړینې پالیسۍ، قوانینو او سمې څارنې ته اړتیا ده. شریعت د هر ډول غیر عادلانه او بې‌پروا استفادې پر وړاندې خبرداری ورکوي؛ چې د طبیعي زېرمو د غیر مسولانه استخراج او مصرف مخه ونیسي. د اسلامي شریعت له نظره د طبیعي زېرمو مدیریت یوازې د اقتصادي ګټې لپاره نه؛ بلکې د ټولنیز عدالت او برابرۍ لپاره هم ارزښت لري. اسلام د سرچینو د عادلانه وېش پر بنسټ ټینګار کوي او هڅه کوي چې د زېرمو د ګټې اخیستنې حقونه د ټولنې ټولو قشرونو ته ورکړي؛ چې په دې سره د فقر او نابرابرۍ مخنیوی وشي، په دې توګه د افغانستان د طبیعي زېرمو مسولانه مدیریت د اسلامي شریعت اصولو سره سم د یو ښه او تل پاتې راتلونکي لپاره اړین بحث دی. باید د زېرمو د کارولو پر مهال د شریعت د لارښوونو په پام کې نیولو سره د ټولو اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي اړخونو په هکله فکر وشي، د دې هدف لپاره د حکومت، چارواکي، علما د اسلامي شریعت له نظره ، مخور او د ټولنې هر غړی باید ګډه همکاري وکړي؛ څو د افغانستان له طبیعي زېرمو څخه په سمه او مسولانه توګه ګټه پورته شي. د دې ترڅنګ د راتلونکي نسلونو لپاره هم د دې سرچینو ساتنه وشي.

**د مسألې بیان**

د اسلامي شریعت له نظره د افغانستان د طبیعي زېرمو مسوولانه مدیریت د یوې جدي ستونزې په توګه مطرح دی. افغانستان که څه هم د طبیعي زیرمو پراخه سرچینې لري، خو د دې سرچینو د عادلانه وېش، ساتنې او استفادې لپاره د شریعت او قوانینو مطابق مشخص او اغېزمن میکانیزمونه نه شته. د غیر مسوولانه استخراج، فساد او نابرابر وېش له امله د دې سرچینو پایداره مدیریت ته جدي ګواښونه متوجه

دي، په دې توګه د اسلامي شریعت اصولو سره سم د طبیعي زېرمو د مدیریت په اړه د عملي او قانوني حل لارو په اړه څېړنه او تفصیل ته اړتیا ده.

### د موضوع ارزښت

په علمي توګه د اسلامي شریعت له نظره د افغانستان د طبیعي زېرمو مسوولانه مدیریت د ډېرو اړینو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي. د نړۍ په کچه افغانستان د هغو هیوادونو له ډلې څخه دی، چې پراخه طبیعي زېرمې؛ لکه معدنونه، نفت، ګاز او د کرنې لپاره مناسبه ځمکه لري، که دغه سرچینې په سمه توګه مدیریت او ولګلول شي، نه یوازې د هېواد اقتصادي ثبات، بلکې د خلکو ټولنیز پرمختګ هم ممکن دی. له بلې خوا د دې زېرمو څخه غیر مسوولانه ګټه اخیستنه او بې نظمه وېش د هېواد د شتمنیو ضایع کېدو او د فقر زیاتېدو سبب ګرځي. د دې موضوع د حل لپاره د اسلامي شریعت اصول د بنسټیزو لارښوونو په توګه مطرح کېږي. شریعت د سرچینو په مصرف کې د عدل، انصاف او تل پاتې مدیریت اصول وړاندې کوي، چې دا د اقتصاد د پراختیا لپاره بنسټیز ارزښت لري؛ په دې توګه د اسلامي شریعت اصولو سره سم د طبیعي زېرمو د مسوولانه مدیریت مسأله نه یوازې په فقهي ډول؛ بلکې په اقتصادي او ټولنیزو اړخونو کې هم د یوې جدي علمي څېړنې ته اړتیا لري. دا څېړنه کولی شي د افغانستان په شان هېوادونو کې د اقتصادي بحرانونو د حل لپاره اغېزمنې لارې چارې وړاندې کړي، ترڅو نه یوازې طبیعي زېرمو ته د مسوولانه مدیریت او انصاف اړخ ورکړل شي؛ بلکې د ټولنې د پرمختګ لپاره هم مناسبې تګلارې جوړې شي؛ ترڅو د افغانستان د خلکو ژوند ورسره هوسا او ارام شي او په خپل هېواد کې د عزت او شرافت ژوند ولري.

### د موضوع اصلي او فرعي پوښتنې

#### اصلي پوښتنه

د اسلامي شریعت له نظره د افغانستان د طبیعي زېرمو مسوولانه مدیریت څه ډول باید ترسره شي، څو د دې سرچینوعادلانه وېش، ساتنه او تل پاتې ګټه اخیستنه یې ډاډمنه شي؟

#### فرعي پوښتنې

۱. د اسلامي شریعت په رڼا کې د طبیعي زېرمو د مدیریت لپاره کوم اصول او لارښوونې شته؟
۲. په افغانستان کې د طبیعي زېرمو غیر مسوولانه استخراج او بې نظمه وېش څه ډول د شریعت اصولو سره مخالف دی؟

۳. څنګه کولای شو، د اسلامي شریعت پر بنسټ د افغانستان د طبیعي زېرمو د مسوولانه مدیریت لپاره مناسب قانوني تګلارې او میکانیزمونه رامنځته کړو؟
٤. اسلامي شریعت د طبیعي زېرمو د مدیریت په برخه کې د فساد او ناسمې ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره کوم تدابیر وړاندیز کوي؟
۵. په اقتصاد او ټولنه کې د افغانستان د طبیعي زېرمو مسوولانه مدیریت څومره مثبت اغېز لري؟
٦. د افغانستان په سیاسي او اقتصادي وضعیت کې د طبیعي زېرمو د مدیریت مسوولانه او شریعت سره سم د تګلارو عملي کولو ګواښونه څه دي؟

## د څېړنې اصلي او فرعي موخې

### اصلي موخه

د اسلامي شریعت له نظره د افغانستان د طبیعي زېرمو مسوولانه مدیریت تحلیل او څېړل، څو د دې سرچینو د عادلانه وېش، ساتنې او تل پاتې ګټې اخیستنې لپاره د شریعت پر بنسټ اغېزمنې لارې چارې او میکانیزمونه وړاندیز شي.

### فرعي موخې

۱. د اسلامي شریعت اصولو ته په پام سره، د طبیعي زېرمو د مسوولانه مدیریت لپاره د اړونده لارښوونو او تدابیرو تشریح.
۲. د افغانستان په اوسني اقتصادي او سیاسي شرایطو کې د طبیعي زېرمو د غیر مسوولانه مصرف او وېش اړوند ستونزې او ننګونو تحلیلول.
۳. د افغانستان د طبیعي زېرمو د مدیریت په برخه کې د اسلامي شریعت داصولو سره سم د قانوني چوکاټونو او څارنې میکانیزمونو وړاندیز.
٤. د فساد او ناسمې ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره د اسلامي شریعت تدابیر او کړنلارو څېړل.
۵. د افغانستان په طبیعي زېرمو کې د تل پاتې او مسوولانه مدیریت لپاره د شریعت د اصولو تطبیق او دې سره تړلي اقتصادي او ټولنیزو ګټو تحلیلول.
٦. د اسلامي شریعت پر بنسټ د افغانستان په کچه د طبیعي زېرمو د مدیریت لپاره د اړینو ادارو، پالیسو او ستراتیژیو وړاندیزول.
۷. د شریعت مطابق د طبیعي زېرمو د ساتنې او استفادې اصولو څخه د افغانستان د عامو خلکو، حکومت او غیر دولتي سازمانونو د پوهې او درک لوړول.

### د څېړنې کړنلاره

د دې څېړنې کړنلاره توصیفي، تحلیلي او تطبیقي ده، چې پکې د شریعت د نصوصو تحلیل، د افغانستان د طبیعي زېرمو د مدیریت سیستم تحلیل او د شریعت اصولو سره د دې سیستم د انطباق په اړه پراخه څېړنه ترسره کیږي. په دې توګه د شریعت د اصولو سره سم د سرچینو د مسوولانه مدیریت لپاره یو تطبیقي میکانیزم وړاندې کول.

### د څېړنې فرضیې

**اصلي فرضیه:** د افغانستان د طبیعي زېرمو مسوولانه مدیریت د اسلامي شریعت له اصولو سره سم دی؛ چې وکولی شي د ټولنې د اقتصاد د پیاوړتیا او د سرچینو د همېشنۍ کارونې لامل شي.

### فرعي فرضیې

۱. د شریعت، نصوص، د طبیعي زېرمو د مصرف، ویش او ساتنې لپاره واضح اصول وړاندې کوي.
۲. د اسلامي شریعت په اصولو کې د افغانستان د طبیعي زېرمو مدیریت سیستم ځینې تشې لري، چې د مسوولانه مدیریت په لاره کې خنډ کیږي.
۳. د اسلامي له شریعت اصولو سره سم د طبیعي زېرمو مدیریت د افغانستان لپاره د اقتصادي پرمختګ او ټولنیز ثبات لامل کېدای شي.
٤. د شرعي اصولو پلي کول د افغانستان د طبیعي زېرمو په مدیریت کې د فساد مخه نیسي او د عادلانه ویش لامل کیږي.

### د څېړنې مخینه یا شالید

د سرچینو مدیریت او له هغو څخه مثبته او عام المنفعت ګټه اخیستل د هر حکومت مسوولیت دی. اسلامي حکومتونه باید هڅه وکړي او دغه سرچینې په داسې توګه مدیریت کړي، چې په ټولنه کې هېڅوک محروم او لاچارې پاتې نه شي. د دغې څېړنې اړوند لاندې لیکنو ته که پاملرنه وشي، چې د سرچینو د مدیریت په اړه له فقهي انده لیکل شوې دي؛ دا به روښانه شي، چې په افغانستان کې دا ډول مهمو څېړنو ته کومه ځانګړنې پاملرنه نه ده شوې؛ خو په عربۍ ژبه کې علماوو او د نظر خاوندانو پرې بحثونه او شننې کړې دي، چې لاندې درې څېړنې د طبیعي سرچینو د مسوولانه مدیریت په اړه معلومات وړاندې کوي او ددې په رڼا کې یې کولای شو، د شرعي اصولو پر بنسټ داسې میکانیزمونه او ستراتیژۍ وړاندې کړو؛ څو د افغانستان د طبیعو زیرمو او سرچینو مسوولانه مدیریت ته لاسرسی پیدا کړو.

١. الإدارة الاقتصادية في الإسلام: مفاهيمها وأبعادها تأليف: د. عبد الله بن محمد بن سعد، الناشر،دار اليمامة للنشر دچاپ کال ،2005 م ، دا کتاب د اسلامي اقتصاد بنسټونه او د سرچینو د مدیریت د اصولو په اړه د شریعت له مخې مفصل بحث وړاندې کوي. د کتاب په یوه برخه کې د طبیعي زېرمو مدیریت او د چاپېریال ساتنې اړوند اسلامي احکام تحلیل شوي دي، چې د سرچینو کارونه باید د عدل، انصاف او د شریعت د اصولو سره سم وي.
٢. الاقتصاد الإسلامي وإدارة الموارد: دراسات في النظريات والتطبيقات تأليف: د. علي بن سعيد، الناشر :دار الفكر العربي، د چاپ کال ۲۰۱۰م. دا کتاب د اسلامي اقتصاد د اصولو او د طبیعي سرچینو مدیریت ته پراخه کتنه کوي. د کتاب په تحلیلي برخو کې د شریعت د اصولو پر بنسټ د سرچینو کارونه او د هغوی ساتنه روښانه شوې ده. د شریعت له نظره د چاپېریال د ساتنې اړوند مفاهیم او د سرچینو د سمې کارونې په اړه بحث شوی دی.
٣. التنمية المستدامة في الإسلام: إدارة الموارد الطبيعية في ضوء الشريعة تأليف: د. فهد بن عبد الله الفهيد، الناشر، دار المنظومة د چاپ کال ۲۰۱۷م. دا کتاب د اسلامي شریعت د اصولو پربنسټ د طبیعي زېرمو د مسوولانه مدیریت لپاره د همېشنی پراختیا مفاهیم وړاندې کوي. په دې کتاب د سرچینو ساتنې اړوند اسلامي حکمونه او د چاپېریال د ساتنې لپاره د اسلام لارښوونې په واضحه توګه تحلیل شوې دي.
٤. اوسنی څېړنه د اسلامي شریعت پر بنسټ د سرچینو د مسوولانه مدیریت او چاپېریال ساتنې اړوند اړینو مسایلو ته په پراخه علمي او عملي بڼه پوښښ ورکوي. په دې څېړنه کې د طبیعي زېرمو د مسوولانه مدیریت، شریعت کې د قواعدو او قوانینو په اړه هغه خلاوې ډکوي، چې اوس مهال د افغانستان په سیاق کې پرې ډېر کم بحث شوي او یا هم په نشتون حسابیږي.

## د طبیعي زېرمو مالکیت او د اسلامي شریعت اصول

### *د طبیعي زېرمو مالکیت او عامه ګټې*

د قرآن کریم او د احادیثو نصوصو ته په کتو، طبیعي زېرمې د بشریت ګډ ملکیت شمیرل شوی دی او الله تعالی داسې فرمايي: : [هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ] (سورة البقرة: ۲۹) په دې آیت کې دا واضح شوې، چې ټولې طبیعي زېرمې د ټول انسانیت مشترک ملك دی او دا د الله تعالی له لوري د بشریت لپاره د نعمتونو د لورینې یوه ځانګړې برخه ده. همداراز هغه حدیث، چې د امام احمد په مسند کې را نقل شوی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: [الناس شركاء في ثلاث: في الماء، والكلأ، والنار] (رواه أحمد شماره:

۴۹۸)، په دغه حدیث کې اوبه، د ځمکې نباتات او د اور اړوند طبیعي سرچینې او زیرمې د بشریت مشترك او ګډ ملکیت ګڼل شوی او په عام المشترکه استفادې یې ټینګار شوی دی: د پورته نصوصو پر بنسټ د طبیعي زېرمو مالکیت د شریعت له مخې د ټولو انسانانو مشترك ملکیت بلل شوی دی، خو د اسلامي اقتصادي مسوولیت له مخې دغه سرچینې باید په عادلانه توګه ووېشل شي او هر څوك یوازې د هغه حق تر سرحد پورې ترې ګټه اخستلای شي (عبد الله الجبرین: ۲۰۲۱م، ص: ۳۵).

د اسلامي اقتصادي سیستم د مسوولیت له آره د طبیعي سرچینو او زیرمو څخه استفاده کول د یو مهم اصل پر بنسټ ترسره کیږي. [الأصل في الأشیاء الإباحة] (اصول دا چې له څیزونو او شیانو څخه استفاده کول اباحت او مشروعیت لري). دا په دې معنا دی، چې د طبیعي زېرمو څخه ګټه اخیستل جواز لري؛ خو یوازې په داسې شرایطو کې، چې دغه ګټه اخیستنه د نورو لپاره زیان رامنځته نه کړي. د دې اصولو پربنسټ دولت هم مسوولیت لري، چې د طبیعي زېرمو د ویش لپاره عادلانه او ګټور تدابیر او میکانیزمونه غوره کړي؛ څو دغه عامه سرچینې په مسوولانه توګه مدیریت شي او ګټه یې ټولو ته ورسیږي (محمد بن سعد: ۲۰۰۵، ص: ۴۰). د دولت د مسوولانه مدیریت اړوند یوه بله مهمه قاعده دا ده چې: "التصرف على الرعیة منوط بالمصلحة". په دې معنا چې دولت باید د عامه مصلحت لپاره د طبیعي زېرمو په کارونه او وېش کې خپل مسوولانه مداخله او مدیریت وکړي. معاصر اسلامي حقوق او قوانین د دولت د مسوولیتونو پر بنسټ د کانونو، ځنګلونو او اوبو مالکیت د دولت ملکیت او مالکیت ګڼي او د دې سرچینو د عادلانه استخراج، پروسیس او وېش لپاره یې ځانګړي تدابیر، قوانین، مقررات او اصول وضع کړي دي؛ څو ګټه اخیستنه ترې عامه شي او هیڅوك ترې ناسمه ګټه وانه خلي (عبد الله بن محمد بن سعد، ۲۰۰۵).

### د طبیعي زېرمو د ساتنې او تنظیم شرعي بنسټات

د شریعت له نظره د طبیعي زېرمو ساتنه او تنظیم یو مهم شرعي مسوولیت دی؛ قرآن کریم کې د دغه امانت په اړه چې د ټولو انسانانو په وړاندې د یوه ستر مسولیت په توګه وړاندې کیږي، وایي: [إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا] (الأحزاب: ۷۲). په دې آیت کې د طبیعي زېرمو عادلانه مسوولیت او مدیریت، ساتنه او منصفانه وېش یو لوی امانت ګڼل شوی دی، چې باید د ټولو لخوا په پوره امانتدارۍ سره استخراج، پروسیس، وېش او تقسیم په داسې توګه وشي، چې له ټولنې څخه فقر، غربت، بیچارګي پای ومومي او یا هم راکمه شي. د شریعت د دغه اصل پر بنسټ "لا ضرر ولا ضرار" د دغې قاعدې پربنسټ د طبیعي زېرمو ناسم یا بې ځایه استعمال منع دی او هر عمل چې ځان او یا نورو ته زیان او تاوان رسوي

ممنوع دی او په شریعت کې ناروا عمل ګڼل کیږي. د بې ځایه او ناسم استعمال سره چاپېریال ویجاړول، د اوبو ککړتیا رامنځ ته کول او د ځنګلونو پرې کول شرعا ممنوع دي. په چاپیریال او ټولنه کې جدي چاپېریالي ستونزې راولاړولی شي؛ چې شریعت یې په هیڅ وجه جواز او مشروعیت نه ورکوي (الإمام النووي: ۲۰۱۰، ص: ۱۲۳) .په شریعت کې د "بیت المال" اصطلاح او رول ته په کتو د طبیعي زېرمو څخه ترلاسه شوې عواید باید د عامه مصلحت لپاره وکارول شي؛ نه دا چې یوازې یوه ځانګړې طبقه ترې ګټه پورته کړي. د بیت المال څخه موخه داده، چې ټول مسلمانان د دغو سرچینو څخه ګټه واخلي او باید د عادلانه وېش د اصولو پر بنسټ وویشل شي (وهبة الزحيلي:۲۰۱۲م، ص: ۱۳۵).

### *د طبیعي زېرمو د غیر عادلانه وېش شرعي ممانعت*

اسلام د هر ډول غیر عادلانه وېش پر ضد سخت دریځ لري او د احتکار په برخه کې دغه حدیث خورا مشهور دی "لا يحتكر إلا خاطئ" (رواه مسلم، شماره: ۱٦۰٥). که څوک په شخصي توګه طبیعي زېرمې لکه اوبه یا نورې سرچینې کنټرول کړي او نرخونه یې لوړ کړي، دا عمل شرعا ناورا بلل شوی دی، ان دا چې محتکر په دغه مفهوم ملعون او د الله له رحمت څخه لرې شمېرل شوی دی؛ خو دغه کار که بیا حکومت او دولت د مسوولانه مدیریت لپاره وکړي؛ ترڅو د ولس حق خوندي کړي، د شرعي موخو او مقاصدو له اره جواز لري. هر ډول فساد، بدې، بې ځایه کارونه، وېش د مزیرمو او سرچینو په شریعت کې په جدي توګه ممنوع دی؛ الله تعالی یې په اړه داسې فرمایي: [وَلاَ تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلاَ تَعْثَوْا فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ] (هود: ۸۵). دغه آیت د هر ډول فساد او طبیعي سرچینو د ضایع کولو پر ضد یو جدي پیغام لري او د شریعت له نظره د سرچینو بې ځایه کارونه او اسراف هم حرام دي؛ الله تعالی فرمایي: [وكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلاَ تُسْرِفُوا] (الأعراف: ۳۱). دغه آیت د سرچینو بې ځایه کارونې او اسراف څخه شرعا جدي ممانعت کوي. اسراف نه یوازې د سرچینو د ضایع کېدو سبب کیږي؛ بلکې ټولنیز اقتصادي توازن خرابوي او د اسلامي اقتصاد بنسټونه زیانمنوي (الفهيد: ۲۰۱۷م، ص: ۲۵).

### د طبیعي زېرمو د کارونې او وېش اسلامي اصول او بنسټونه

### *په استعمال کې اعتدال او د اسراف څخه ممانعت*

اسلام د هر اړخیز او متوازن استعمال اصول وړاندې کوي، چې د شریعت دحکم په بنسټ باید ټول بشریت د سرچینو او زیرمو څخه په متوازنه او معتدله توګه ګټه پورته کړي؛ دغه توازن او اعتدال ته په قرآن کریم کې داسې اشاره شوې ده: [وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا]

(الفرقان: ٦٧). په دې آيت کې دسرچينو او زيرمو د بې ځايه استعمال او کاروني څخه جدي ممانعت شوی دی او د استعمال په عادي او منځنۍ پروسې تأکيد شوی او منځلارې بندگان الله تعالى غوره گڼلي دي د فقهي اصولو په رڼا کې د "التصرف في الملك يجب أن يكون شرعياً" قاعده هم د طبيعي زېرمو د کاروني لپاره يو بنستيز اصل گڼل کيږي؛ په دې معنا چې که څوک د سرچينو ناسم يا بې ځايه کارونه وکړي، نو دولت حق لري چې د دغې کاروني پر محدوديت يا تنظيم اړه شرعي او قانوني اقدام وکړي. دا د اسلامي دولت د مسووليت يوه مصلحتي برخه ده، چې د سرچينو د غير شرعي او قانوني کاروني مخنيوی وکړي او د عدالت د پلي کولو لپاره هڅه وکړي. د معاصرو قوانينو په رڼا کې شرعا او قانونا دا جواز لري، چې د انرژۍ او اوبو پر مديريت شرعي او قانوني محدوديتونه ولگول شي؛ څو د راتلونکو نسلونو لپاره د طبيعي سرچينو ساتنه يقيني شي. د دې اصولو پر بنسټ د طبيعي زېرمو په کارونه کې بايد د احتياط څخه کار واخيستل شي، د ضرورت او اړتيا پر بنسټ ترې گټه او استفاده وشي (أحمد العرفات: ٢٠١٣م، ص: ٤٥).

### د طبيعي زېرمو عامه گټه او د وقف د اصل مفهوم

په اسلامي شريعت کې د طبيعي زېرمو د عامه گټې او د وقف مفهوم د سرچينو او زيرمو په مسوولانه مديريت کې خورا مهم ځای لري. که چيرته يو مسلمان خپل عقارات او منقولات وقف کړي ؛ ترڅو ترې نور خلك مستفيد شي؛ بيا خو حکومت دعمومي مصلحت د ساتنې لپاره کولای شي؛ چې طبيعي زيرمې داسې مديريت کړي، چې گټه يې عمومي مسلمانانو ته ورسيږي؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: [إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِثَمَرَتِهَا] (رواه مسلم، شماره: ١٦٣٣). په دې حديث کې د وقف د اصولو په اړه افرادو ته لارښوونې شوې، چې اصل يې وساتي او منفعت يې خلکو ته په دوامداره توگه خيرات او صدقه کړي. حکومت بيا د ټول ولس عمومي هوساينه او رامي پر غاړه لري او د مصلحت پر بناء د طبيعي زېرمو لکه؛ اوبو، ځنگلونو او نورو سرچينو وقف د ټولنې د عمومي گټې لپاره تخصيص کولای شي، چې په مسوولانه توگه مديريت شي. په استخراج، پروسيس او بالآخره توزيع او تقسيم کې يې د عدالت او انصاف بنسټونه مراعات شي، چې په ټولنه که محروميت او فقر لمنځه يوسي او دغه سرچينې د وطن او وطنوالو په گټه استعمال شي (الخطيب، احمد: ٢٠١٨م، ص: ٣٧).

فقهي قواعد اوبنسټونه د وقف په اړه دا بيانوي، چې وقف بايد د ټولنې د گټې لپاره وي، نه د يوه ځانگړي فرد يا ډلې شخصي گټې لپاره. که د چاپېريال د ښه والي لپاره وقف رامنځته شي، دولت ته اجازه ورکول کېږي، چې د خلکو د مصلحت لپاره يې ترتيب او تنظيم کړي. دا د اسلامي شريعت پر بنسټ د دولتي رول پر اهميت ټينگار کوي، چې د وقف پروژو ته د ټولنې د ښېرازۍ لپاره تنظيمات

ورکوي. اسلامي بانکونه هم د طبيعي زېرمو د ساتنې لپاره مهم رول ولوبوي، دوی کولی شي د چاپېريال ساتنې او د سرچينو مسوولانه مديريت، بشر دوستانه او اقتصادي پروژو تمويل برابر کړي، چې د طبيعي سرچينو د ساتنې او پرمختګ لپاره باارزښته واقع شي. دغه ډول پروژې نه يوازې اقتصادي ارزښت لري، بلکې د ټولنې د چاپېريال ساتنې او تل پاتې پرمختګ لامل هم ګرځي (عبد الله العثيمين: ۲۰۱۵م، ص: ۸۷).

### *د سرچينو په ساتنه کې د دولت مسووليت*

له شرعي پلوه د طبيعي زېرمو په ساتنه کې د دولت مسووليت خورا مهم دی. د دولت د شرعي مکلفيتونو په اړه دا فقهي قاعده شته، چې د حکومتي مسوولينو هره کړنه بايد د ولس په خير او ګټه وي: "تصرف الإمام على الرعية منوط بالمصلحة" په دې معنا چې دولت بايد د عامه مصلحت، د سرچينو د ښه او مسوولانه مديريت او ساتنې لپاره لازمې کړنې ترسره کړي او دولت داسې قوانين بايد وضع کړي، چې د طبيعي زېرمو له ناوړه استفادې څخه مخنيوی وکړي.

د طبيعي زېرمو د عوايدو په اړه د بيت المال مسووليت هم خورا مهم دی. د شريعت اصول او بنسټونه په دې ټينګار کوي، چې د بيت المال عوايد بايد د ټولنې د هوساينې او نېکمرغۍ لپاره وکارول شي؛ نه دا چې يوازې د اشرافو يا ځانګړو کسانو لپاره د امتيازاتو په بڼه ورکړل شي. د بيت المال هدف دا دی، چې د طبيعي زېرمو ګټه ټولې ټولنې ته ورسيږي او د اقتصادي توازن لپاره د عمومي مصلحت لپاره استعمال شي. که څوک طبيعي زېرمې احتکار کړي يا يې ضايع کړي؛ اسلامي دولت بايد شرعي تعزيرات پرې ولګوي. د دې تعزيراتو موخه دا ده، چې د ټولنې ګټې خوندي پاتې شي او په هره کچه د شريعت اصول پلي شي. په تعزيراتو کې د جزاوو او مجازاتونو اړوند ځانګړي شرايط او قواعد شته، چې د دولت د مسووليت اړوند واضح او روښانه احکام او ميکانيزمونه پکې ليدل کيږي،څو د هغه پر بنسټ د عامه ګټو څخه دفاع وشي (أكرم زكريا: ۲۰۲۰م، ص: ٦۷).

### د طبيعي زېرمو د ساتنې او پراختيا ستراتيژي

### *د اسلامي فقهې له نظره د تل پاتې ودې اصول*

د اسلامي فقهې له نظره، تل پاتې وده د طبيعي زېرمو په عادلانه او مسوولانه کارونه کې نغښتې ده. د طبيعي زېرمو د ساتنې او پرمختګ لپاره د فقهې بنسټونو پر هغو اصولو بنا شوي دي، چې نه يوازې د خلکو مصلحت ته به پام کوي، بلکې د شريعت په حدودو کې د ټولو زېرمو عادلانه وېش او کارول هم تضمينوي. د شريعت يو مهم اصل د "احياء موات" دی، چې په حديث کې راغلی دی: "من أحيا أرضًا

میتة فهي له" (رواه أبو داود، شماره: ۳۰۷۳). په دې حدیث کې د پخوانیو او له کاره لوېدلو ځمکو د احیا کولو لپاره د خلکو هڅونه شته؛ څو دغه شاړې ځمکې په کرنیزو ځمکو بدلې شي. له یوې خوا به خلکو ته کار پیدا شي؛ له بلې خوا به د سرچینو مسوولانه مدیریت ترسره شي، چې دا کار به د چاپېریال ساتنې په اړه غوره اغیزې وښیندي او عامه سرچینې او زیرمې به د ولس د عمومي مصلحت په چوکات کې راونغښتل شي، چې دا کار به د همېشنۍ اوتل پاتې ودې او پرمختګ لامل وګرځي. شرعي اصول او قواعد خلك دې ته هڅوي، چې شاړې ځمکې بیا ابادې کړیاو په دې کار سره به د اقتصاد د پراختیا لپاره لارې پرانیزې، چې دا کار به د طبیعي زېرمو د عادلانه وېش پر لور لوی ګام وي. هغه کسان چې ځمکې ابادوي او د ګټې اخیستنې لپاره یې چمتو کوي، باید د اسلامي حکومت لخوا تشویق شي؛ څو ټولنه د دې سرچینو څخه په مناسب ډول ګټه پورته کړای شي. بله مهمه مسأله چې د تل پاتې ودې لپاره اړینه ده، د سودي اقتصاد پرځای د اسلامي اقتصادي نظام له طرزالعمل او تړونونو څخه ګټه اخیستنه ده. د سودي نظام په اړه قرآن کریم فرمایي: [وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا] (البقره: ۲۷۵). سود د طبیعي زېرمو عادلانه وېش ته زیان رسوي او د مالیې په سیستم کې یو جابرانه او ظالمانه فشار رامنځ ته کوي. د دې مسألې د حل لپاره باید اسلامي اقتصادي تمویل وده وکړي او اسلامي اقتصادي وسایل لکه مضاربه، مشارکه او وقف د طبیعي زېرمو د مسوولانه، مدبرانه مدیریت لپاره د غوره حللارو په بڼه وړاندیز شي\او پر بنسټ یې د طبیعي زیرمو د پروژو تمویل وشي، څو اقتصاد پر پښو ودریږي او تل پاتې وده او پرمختګ په هېواد کې سترګې وغړوي. دولت باید د سودي سیستم د له منځه وړلو لپاره داسې پرمختللي اسلامي مالي وسایل وړاندې کړي، چې د اسلامي شریعت سره سمون ولري. مضاربت او مشارکت هغه کاري لارې دي، چېد طبیعي زېرمو د پراختیا او ساتنې لپاره غوره فضاء رامنځ ته کولای شي؛ ځکه چې دغه اسلامي اقتصادي وسایل د سرچینو عادلانه وېش تضمینوي او د سودي اقتصادي فشارونو مخنیوی کوي (سامي البدري: ۲۰۱۷م، ص: ۵۵).

### د اسلامي اقتصاد او چاپېریالي ستونزو همغږي

په اسلامي اقتصاد کې د طبیعي زېرمو ساتنه او مسوولانه مدیریت یې د مصلحت په بنسټ ترسره کیږي. د شریعت یو مهم اصل د "المصلحة العامة" یا د عامه ګټې اصل دی، چې هر شرعي عمل او قانون د خلکو عمومي مصلحت په نظر کې نیولو سره مشروع او جائز ګڼل کیږي. په قرآن کریم کې د دې اصل په هکله راغلي: [مَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ] (الحج: ۷۸). لکه څرنګه چې معلومه ده، په دین کې حرج، تکلیف او مشقت نشته؛ بلکې دین د انسانانو ټول عمومي مصلحتونه تضمین کړي دي او هر قانون، چې د عامه مصلحت لپاره وي شریعت یې تاییدوي؛ نو ویلای شو چې د طبیعي زېرمو د

ساتنې او مسوولانه مدیریت اصول او بنسټونه د دغه آیت په رڼا کې د منلو وړ دي او د حکومت ټولې کړنې باید د انسانانو د مصلحت او ښه ژوند پر برابرولو راوڅرخیږي، څو په وطن کې ارامي او سوکالي رامنځ ته شي. په دې توګه د اسلامي عقودو پرمټ؛ لکه اجاره، سلم او استصناع له لارو د طبیعي زېرمو ساتنه او مسوولانه مدیریت ممکنه ده. د اجارې قراردادونه هغه وخت شوني دي، چې د سرچینو ساتنه او کارونه په قانوني او مسوولانه ډول تضمین شي. په دې ډول قراردادونو کې د اجارې پراختیا او نورو تړونونو په واسطه کولای شو د طبیعي زېرمو په ساتنه د ټولو برخو د ګټو دخوندي کول په چاپېریال راوڅرخوو او یقیني کړو. وقف بیا هغه وسیله ده چې د مسلمانانو د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره ارزښتمن بنسټون لري. د وقف د اصولو مطابق ځمکې، ځنګلونه او اوبه د ټولنې د اوږدمهاله هوساینې لپاره په وقف کې ورکول کیږي او له ثمرې او ګټې څخه یې اوږدمهاله استفاده کیدلی شي. له بلې خوا بیا زکات هغه مالي سرچینه ده، چې د فقر د له منځه وړلو لپاره کارول کېږي او د چاپېریال د ساتنې او طبیعي زېرمو د حفظ لپاره هم ترې استفاده کیدلای شي، په تېره بیا هغه مهال چې د زکات اخیستونکي اصناف پیدا نه شي؛ نو د وخت حکومت کولی شي د زکات له سرچینو څخه د طبیعي زیرمو او سرچینو مسوولانه مدیریت او چاپیریال ساتنې لپاره ترې ګټه واخلي، څو یې ګټه عمومیت پیدا کړي او د هیواد وګړي ترې برخمن شي؛ د وطن د ابادۍ، ښېرازۍ او ارامۍ لپاره ترې ګټه واخیستل شي؛ الله تعالی فرمایي: [ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ] (التوبة: ٦٠). د دې ټولو اصولو او وسیلو په کارولو سره اسلامي اقتصاد د طبیعي زېرمو د ساتنې او پراختیا لپاره یو مسولانه او متوازنه لاره وړاندې کوي (محمود عبد الله، (۲۰۱۹م، ص: ۳۷).

### ***د طبیعي زېرمو په ساتنه کې د اسلامي دولت رول***

اسلامي دولت د طبیعي زېرمو د ساتنې او پراختیا لپاره د مسوولیت یو لوی بار پر غاړهلري" د شریعت له مخې دولت باید داسې قوانین او مقررات وضع کړي، چې د طبیعي زېرمو د غیرقانوني او بې نظمې استفادې مخه ونیسي" د اسلامي دولت د شرعي مکلفیتونو په هکله قاعده ده چې: "تصرف الإمام على الرعية منوط بالمصلحة" په دې معنا چې دولت باید د عامه مصلحت لپاره د سرچینو د مدیریت او ساتنې لپاره اقدامات وکړي؛ ځکه چې د حکومت هر عمل او کړنه باید د خلکو د مصلحت او هوساینې لپاره وي. اسلامي دولت باید د طبیعي زېرمو عواید د بیت المال له لارې د ټولنې په هوساینه ولګوي، نه په ځانګړو اشخاصو باندې. د بیت المال د قوانینو په رڼا کې د طبیعي زېرمو د عوایدو څخه ټولنه باید داسې ګټه واخلي، چې ټولنې د جهل، بېکارۍ او بېوزلۍ ټغر ټول شي یا یې هم څه ناڅه سلنه

راکمه شي. دا هرڅه د اصولو، قوانینو، طرزالعملونو او د مشرانو ترمنځ د شورا او مشورې له مخې رامنځ ته شي؛ ترڅو له ټولنې څخه مالی وېش د دیکتاتورۍ مفهوم پای و مومي؛ په دغه اړه الله تعالی داسې فرمايي: [وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ] (الشورى: ٣٨) .او [وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ] (الذاريات: ١٩). د دغو آیتونو پر بنسټ اسلامي دولت باید د ټولنې سره داسې اړیکه ټینګه کړي، چې بنسټ یې خپلمنځي احترام وي او د ټولنې ټول وګړي خپلو بنسټي حقونو ته لاسرسی ولري، څو ټولنیز عدالت تطبیق شي او ټولنه پرمختګ وکړي( الفهید: ٢٠١٧م، ص: ٣٢).

که څوك د طبیعي زېرمو څخه غیرقانوني ګټه اخلي، دولت باید شرعي تعزیرات پرې ولګوي، څو د ټولنې د هوسایېنې لپاره دغه عامه سرچینې خوندي شي؛ د دې لپاره د شریعت او قانون سره سم تعزیرات او مجازات رامنځ ته کړي، چې پربنسټ یې دغه سرچینې له هر ډول تیري او تجاوز څخه خوندي پاتې شي او د ټولنې د عمومي هوسایېنې او رامې لپاره ترې په راتلونکې کې ګټه واخیستل شي.

### د شریعت له نظره د طبیعي زېرمو په پراختیا کې د ټکنالوژۍ رول

اسلام د علم او ټکنالوژۍ پر بنسټ پرمختګ ته ډېر اهمیت ورکوي. د قرآن کریم یو مشهور آیت د علم ارزښت داسې بیانوي: [وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا] (طه: ١١٤). ژباړه :( پروردګاره زما پوهه را زیاته کړه ). د ټکنالوژۍ پراختیا باید د فقهې له زاویې او د شریعت د اصولو سره سمه تنظیم شي. نننۍ ټکنالوژي د طبیعي زېرمو په ساتنه او پراختیا کې د پام وړ رول لري، دا ټکنالوژي د اوبو پاکولو، د ځمکو اصلاح او د انرژۍ د بدیل سرچینو ته لاسرسی د طبیعي زېرمو ساتنه اسانه کوي او ګټه اخیستنه ترې خورا اسانه کولای شي. په نړۍ کې چې نن کوم نظامي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګونه د سر په سترګو ګورو، دا ټول د نننۍ ټکنالوژۍ برکت دی او الله تعالی یې مسلمانانو ته په قرآنکریم کې یادونه هم کړې، چې دوی باید د قوت او قدرت د تیارولو لپاره غوره کوښښونه وکړي، څو داسې قوت او قدرت رامنځ ته کړي، چې د اسلام دښمنان پرې ووېروي؛ الله تعالی داسې فرمايي:[وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ] (الأنفال: ٦٠).

اسلامي دولت ته دا مسوولیت ورپرغاړه کیږي، چې د ټکنالوژۍ د استعمال لپاره داسې قوانین جوړ کړي؛ څو پرمټ یې د طبیعي زیرمو او سرچینو مسوولانه مدیریت رامنځ ته کړي؛ ویش او تقسیم یې د ولس د عمومي مصلحت لپاره وکارول شي، له ټولنې څخه د بېوزلۍ ټغر ټول شي او یا هم سلنه یې راکمه شي ( أحمد العرفات: ٢٠١٣م، ص: ٧٧).

***د طبیعي زېرمو د ساتنې په برخه کې د نړۍوالو مرستو اهمیت***

شرعي احکام او لارښوونې د ټولنیزو اړیکو او نړۍوالو مرستو ته خورا زیات ارزښت ورکوي. قرآن کریم په بېلابېلو آیتونو کې د مسلمانانو ترمنځ او د نورو ملتونو سره د مرستې پر ارزښت ټینګار کوي؛ لکه څنګه چې وايي: [وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ] (المائدة: ۲). د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره نړۍوالې مرستې نه یوازې د اسلامي هېوادونو لپاره اړینه دي، بلکې د ټولې نړۍ د ښه والي لپاره هم اړینې دي. اسلامي دولتونه باید د نړۍوالو سازمانونو؛ لکه د اقلیم بدلون او چاپېریالي ساتنې بنسټونو په مرسته خپلې هڅې پیل کړي، څو د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره ګډې کړنېترسره کړي (عبدالله بن سعد: ۲۰۰۵م، ص: ۳۳).

**د څېړنې موندنې**

۱. په شریعت کې د اسلامي فقهې له نظره د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره د تل پاتې ودې یو شمېر بنسټیز اصول وړاندې کوي، چې د تل پاتې ودې لپاره حتمي او اړین ګڼل کیږي. د احیاء موات اصل چې له حدیث "من أحیا أرضًا میتة فهي له" څخه اخستل شوی دا څرګندوي، که څوک شاړې ځمکې بیا فعاله کړي دا د هغه حق دی؛ چې ګټه ترې واخلي او دولت باید هر ډول اسانتیاوې ورته برابرې کړي. شریعت د ځمکو اصلاح او د طبیعي سرچینو عادلانه وېش ته خورا زیات ارزښت ورکوي او په دې توګه د تل پاتې ودې مفکورې ته لارښوونې هم کوي.

۲. اسلامي تمویل د سودي سستم پر ځای د مضاربت، مشارکت او وقف په څېر متبادلې حللارې وړاندې کوي، چې د طبیعي زېرمو د ساتنې، عادلانه وېش او تل پاتې ودې لپاره اړین ګامونه شمیرل کیږي. د سودي نظام له امله طبیعي زېرمو ته زیان رسېږي؛ ځکه چې دا د عادلانه وېش پر ځای د بې عدالتۍ او ناانډولتوب لامل ګرځي.

۳. اسلام د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره د اسلامي اقتصاد او دچاپېریالي ستونزو توافق د مصلحت اصل وړاندې کوي، چې د هر قانون او کړنلارې تاسیس د عامه ګټې په بنسټ وي. د طبیعي زېرمو د ساتنې او د اقتصادي پرمختګ لپاره د شریعت اصول د لا نورو فرصتونو برابرولو لپاره لارښوونې کوي. د اجارې، سلم او استصناع په څېر اسلامي قراردادونه د طبیعي زېرمو ساتنه تضمینوي.

٤. وقف او زکات هم د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره مهم ابزار ګڼل کېږي؛ د وقف پر بنسټ ځمکې او سرچینې د ټولنې لپاره د اوږدمهاله فلاح په لور کارول کیږي او د زکات سیستم د طبیعي زېرمو په خوندي ساتلو کې مرسته کوي.

۵. د طبیعي زېرمو په ساتنه کې د اسلامي دولت رول خورا مهم دی. دولت د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره اړین مسوولیت لرياو د شریعت پر بنسټ دولت باید داسې قوانین وضع کړي، چې د طبیعي زېرمو عادلانه وېش او ساتنه تضمین کړي؛ نو دا د اسلامي دولت مسوولیت دی، چې د غیرقانوني استفادې او سرچینو د ناوړه استعمال مخنیوی وکړي.

٦. د ټکنالوژۍ کارول د طبیعي زېرمو د ساتنې او پراختیا لپاره ډېر مهم ګڼل کیږي. اسلام خپل اتباع علم او ټکنالوژۍ ته هڅوي، څو د پرمختګ په میدان کې ترې ګټه واخیستل شي. د اوبو پاکولو، د ځمکو اصلاح او د انرژۍ د بدیلو سرچینو په لور د لارو چارو په پرانستلو کې مرسته کویاو د طبیعي زېرمو د همېشنۍ ودې لپاره د ټکنالوژیو کارول اړین ګڼل کیږي.

۷. اسلام د نړۍوالې مرستې پر ارزښت ټینګار کوي، ځکه چې د طبیعي زېرمو د ساتنې مساله یوازې په یوه هېواد پورې محدوده نه ده. د اسلامي هېوادونو د ګډو کوښښونو له لارې؛ چې د اقلیمي بدلون، د طبیعي زېرمو ساتنې او د چاپېریالي ستونزو په هکله دي د نړۍوالې ټولنې مرستې او همغږي خورا باارزښته ګڼل کیږي. شریعت د داسې مرستو غوښتنه کوي، چې د ټولې نړۍ لپاره د هوساینې، پرمختګ او د طبیعي زېرمو د ساتنې لامل وګرځي او په نړۍ کې سوله، امنیت او سوکالي دوام پیدا کړي.

**د څېړنې پایلې**

۱. د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره د اسلامي شریعت اصول بنسټیز رول لري.

۲. اسلام د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره ځانګړي شرعي اصول لري، چې د همېشنۍ ودې او د طبیعي سرچینو د ساتنې بنسټ جوړوي. د شریعت له مخې طبیعي زېرمې؛ لکه د ځمکې اوبه او نورې سرچینې د ټول انسانیت ګډ ملکیت ګڼل کېږي. د "الناس شركاء في ثلاث: في الماء، والكلأ، والنار" حدیث د طبیعي زېرمو د عمومي ګټې پر کارونې اوګټې اخیستنې ټینګار کوي، چې سرچینې باید د ټولو لپاره وي او د یو ځانګړي ګروپ لخوا پرې تسلط نامشروع ګڼي.

۳. اسلام د طبیعي زېرمو د وېش لپاره د عدالت اصول وړاندې کوي، دا په ځانګړې توګه د «الأصل في الأشياء الإباحة» قاعده کې څرګندېږي، چې د سرچینو څخه ګټې اخیستنې ته اجازه ورکوي؛ خو په دې شرط چې د زیان مخنیوی وشي. د "لا ضرر ولا ضرار" قاعده هم د سرچینو د ناسم لګښت پر ضد او د چاپېریال د ساتنې لپاره د وقایې په توګه کارول کېږي. دا اصول او قواعد د طبیعي زېرمو عادلانه وېش او د وسایلو د معتدل استعمال ملاتړ کوي.

٤. اسلامي اقتصاد د سود پر ځای د مضاربت، مشارکت او وقف په څېر سیستمونه وړاندې کوي، چې د طبیعي زېرمو د عادلانه وېش لپاره اړین دي. دا سیستمونه تل پاتې او عادلانه ودې ته لار هواروي؛ ځکه دا ټولنې ته اجازه ورکوي چې په متوازن ډول د سرچینو څخه ګټه واخلي او وېش په عادلانه توګه وشي.

۵. اسلامي دولت باید د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره د قوي قوانینو وضع کولو ته ژمن وي. د دولت شرعي مکلفیتونه د دې لپاره دي، چې سرچینې د غصب، فساد او غیرقانوني ګټې اخیستنې څخه خوندي وساتي. د طبیعي زېرمو عواید باید د بیت المال د عوایدو له لارې د ټولنې په عامه هوساینه ولګول شي.

٦. وقف او زکات هغه بنسټي اسلامې توکي دي، چې د طبیعي زېرمو د ساتنې او د هغې پراختیا لپاره کارول کېدای شي. د وقف پر بنسټ ځمکې او نورې سرچینې د ټولنې د اوږدمهاله هوساینې لپاره کارول کېږي، چې په دې توګه طبیعي زېرمو ته د تل پاتې ساتنې لارې چارې برابروي. همدارنګه د زکات سیستم، د سرچینو عادلانه وېش او د ټولنې بېوزلو ته د سرچینو برابرولو لپاره یوه مهمه لاره ده.

۷. اسلام د پرمختګ لپاره علم او ټکنالوژي اړینه وسیله ګڼي، د لاسته راوړنې یې ملاتړ کوي او دا اړینه بولي، چې د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره نوې ټکنالوژۍ وکارول شي. په اوسني عصر کې د اوبو تصفیه، د ځمکو اصلاح او د انرژۍ د بدیلو سرچینو پراختیا د طبیعي زېرمو د تل پاتې ساتنې وده او پراختیا له علم او ټکنالوژۍ سره تړلې دي.

۸. د طبیعي زېرمو ساتنه یوازې په یوه هېواد پورې اړه نه لري. د اسلامي شریعت اصول د نړۍوالې مرستې او همغږۍ په لور مهمې لارښوونې کوي، چې د اقلیمي بدلونونو او طبیعي زېرمو د ساتنې په برخه کې د نړۍ په کچه ګډې مرستې ته اړتیا زیاتوي.

**د څېړنې وړاندیزونه**

۱. د اسلامی فقهې او قانون پر بنسټ د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره نوي قوانین وضع کول؛

۲. د اسلامي تمویل سیستم ته پراختیا ورکول؛

۳. د چاپېریال ساتنې په برخه کې د اسلامي ښوونو او لارښوونو ته پراخ ترویج ورکول؛

٤. د ټکنالوژۍ په کارولو سره د طبیعي زېرمو د ساتنې نوې لارې چارې رامنځ ته کول؛

۵. په طبیعي زېرمو کې د وقف او زکات سیستم ته د مسوولانه مدیریت او ساتنې لپاره ځانګړی رول ورکول؛

٦. د اسلامي فقهې پر بنسټ د نړۍوالې مرستې لپاره، قوانینو ته پراختیا ورکول ؛
٧. د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره د دولت لخوا نظارت او د مجازاتو سیستم رامنځته کول؛
٨. د تل پاتې ودې لپاره د اسلامي اقتصادي بنسټونو ته پراختیا ورکول؛
٩. د شریعت سره سم د طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره پراخه څېړنیز پروژې رامنځ ته کول؛

## سرچيني

القرآن الكريم

أحمد، ع.(2013). *قانون البيئة الإسلامي* .دار الرسالة.

أحمد بن حنبل، أ .(1995). *مسند الإمام أحمد بن حنبل* (تحقيق ش. الأرناؤوط). مؤسسة الرسالة.

البخاري، م. ب. إ .(2001). *صحيح البخاري* (تحقيق م. ز. ب. ن. الناصر). دار طوق النجاة.

البدري، س .(2017). *الإسلام والبيئة* .مكتبة ابن رشد.

الجبرين، ع .(2021). *الاقتصاد الإسلامي: المفاهيم والتطبيقات* .دار العلم.

الخطيب، أ .(2018). *فقه الوقف في الإسلام: أحكامه وأثره* .دار السلام.

الزحيلي، و .(2012). *الفقه الإسلامي وأدلته* .دار القلم.

زكريا، أ .(2020). *فقه المضاربة والمشاركة* .دار التقوى.

سعد، ع. ب. م. ب .(2005). *الإدارة الاقتصادية في الإسلام: مفاهيمها وأبعادها* .دار اليمامة للنشر.

العثيمين، ع .(2015). *إدارة المال العام في الإسلام* .مؤسسة الإسلام.

الفهيد، ف. ب. ع .(2017). *التنمية المستدامة في الإسلام: إدارة الموارد الطبيعية في ضوء الشريعة* .دار المنظومة.

محمود، ع .(2019). *الفكر البيئي في الإسلام* .دار السلام.

مسلم بن الحجاج، م .(2010). *صحيح مسلم* (تحقيق ش. الأرناؤوط). دار إحياء التراث العربي.

النووي، ي. ب. ش .(2010). *المجموع شرح المهذب* .دار الفكر.

أبو داود، س. ب. ا .(2009). *سنن أبي داود* (تحقيق ش. الأرناؤوط). دار الرسالة العالمية.